مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۳/۰۷/۲۴

# غزل

چي باداران وي عياشى ته پيدا
ملت به خود وي قربانى ته پيدا

مونږ د ميراني نمونه ګڼو ځان
يوو حقيقت ګښني ناپوهى ته پيدا

کړو د ابدال او ميرويس خان خبري
نه شو راتول، يوو ځانځانى ته پيدا

دا عجيبه غوندې معما يوو مونږه
يوو په خپل مينځ ګښي دوښمنى ته پيدا

په بل غيرت کوو او سر ورکوو
بل کړو خوشبخت مونږ بدبختى ته پيدا

پردى مُلا داسي فتوه ورکوي
وايي پښتون دى ځان مرګى ته پيدا

اى پسرليه جهل نه ورکيږي
څو چي دا قام وي خودخواهى ته پيدا

مصطفى پسرلى
23/July/2023



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ